# په سویډن کې د فردا هنري او فرهنګي کلوب

## د ( اکرم عثمان ) ادبي فیستیوال، خاص د لنډو کیسو لپاره

## د ۲۰۲۱ کال د مې میاشتې دوهمه

د فردا کلوب د اروا ښاد ډاکټر صاحب اکرم عثمان د لوړو ادبي او ځلاندو کړنو په خاطر لومړنی ادبي، خو په خاصه توګه کیسیز فیستیوال د اکرم عثمان د ادبي جایزې په نامه جوړوي .

د دغه فیستیوال هدف په خاصه توګه د داستان لیکلو په ډګر کې د افغانستان د نویو او تکړوو څېرو معرفي ده.

د دغه فیستیوال مدیریت ټولو داستان لیکونکو ته په هیواد کې دننه او له هیواده بهر بلنه ور کوي، چې د خپلو دوو داستانونو د را لېږلو له لارې په دغه فیستیوال کې ګډون و کړي .

د دغه فیستیوال صلاحیت لرونکې کتونکې به درېیو ښو خوښ کړه سویو داستانو ته د ( اکرم عثمان) ادبي جایزه ورکړي.

د دغه فیستیوال خوښ شوي داستانونه به د یوه خاص کتاب په چوکاټ کې چاپ شي .

**په فیستیوال کې د ګډون شرایط :**

۱. ستاسي لیکلي داستاني (کیسیز ) آثار باید د ۲۰۲۰ کال د نوومبر له ۲۵ څخه د ۲۰۲۱ کال د جنوري تر ۲۵ نېټې پوري د فیستیوال ادارې ته را و رسېږي .

۲. د سیالۍ لپاره دي لیکونکې یواځې دوه داستانونه په فارسي (دري) او پښتو ژبو را ولیږي .

۳. ټول اثار باید په word لیکل شوي، د (attachment) ضمیمه فایل ته ، د برېښنـايي پوسـتې له لارې ( Literaryfestival@farda.org) ته، د « د اکرم عثمان ادبي فیستیوال لپاره » تر عنوان لاندې را و لېږل شي .

۴. د اثر د څښتن پوره مشخصات ( نوم، کورنی نوم، د زیږېدو نېټه، د زیږېدو ځای، د اوسېدو اوسنی ځای، د تحصیلاتو په صورت کې ، د تحصیلاتو کچه، که چاپ شوي آثار و لری، د اثر نوم، د پوستې نښاني، د تلیفون نومره) دي په یوه ځانګړې پاڼه کې، د ټیپ شوو آثارو سره یو ځای را و لېږي .

**د اکرم عثمان د ادبي فیستیوال مدیریت**

KULTURRÅDET

Farda Cultural Club in Sweden